۲۵ دسمبر، ۲۰۱۱

**دکاناډا ګورنر جنرال او اعلی سرقومندان درخصتی پر مهال دهغو کاناډایی ځواکونو او ملکیانو سره وکتل چی دهیواد څخه بهر ګمارل شوی دی**

اوټاوا – جلالتمآب ښاغلی ډیوېډ جانسن دکاناډا ګورنر جنرال او اعلی سرقومندان د دسمبر د ۲۲ څخه تر ۲۵ دروان کال په اوږدو کی دهغو کاناډایی ځواکونو او ملکیانو سره وکتل چی په ایټالیا او افغانستان کی ګمارل شوی دی. دجلالتمآب سره دکاناډا دملی دفاع وزیر ښاغلی پیټر مکی او ددفاع دوزارت لوی درستیز ښاغلی والټ نتنزکی هم یوځای وو.

ښاغلی جانسن وویل: ما دپاره دایو ښه امیتازوو ترڅو خپل دزړه له کومی مننه او حمایت دهغو کاناډایی نر او ښځو سره چی یونیفرم پر تن لری، ډیپلوماتانو، دمرستی او همکاری متخصصینو او هغو پولیس افسرانو سره شریک کړم چی دهیواد څخه بهر دنړی په ځینو برخو کی دامن او غوره والی لپاره متعهد دی. دخپلو کورنیو او دوستانو څخه لری دکال پدی موده کی دکاناډایی ځواکونو او ملکیانو قربانی کوچنی کار ندی، زه دوی ته ددی ماموریت د پوره کولو لپاره دغوره چانس غوښتونکی یم.

**دملاقات په موده کی دکړنو لنډیز**

روم ته دهغه په رسدوسره، ښاغلی ګورنرجنرال دونکور د HMCS څخه لیدنه وکړه چیرته چی یی دهغو ځواکونو سره وکتل چی دلیبیا په ساحل کی په ګډمه ګمارل شوی او له هغوی څخه یی دناټو دماموریت سره په همکاری مننه وکړه کوم چی دلیبیا دآزادی لپاره د۲۰۱۱ کال په اکتوبر کی په کاراچول شوی.

دچک دجمهوریت په پراګ کی ددغه هیواد دپخوانی رییس جمهور دجنازی دمراسمو څخه وروسته، جلالتمآب کابل ته راغی او دافغانستان دجمهور رییس ښاغلی حامد کرزی سره یی وکتل ترڅو دکاناډا دنوی استراتیژیک ماموریت او په افغانستان کی دمهمی پانګونی دپیژندګلوی په اړه او همدارنګه په دغه هیواد کی دتلفاتو په اړه ورسره خبری وکړی. همدارنګه ښاغلی جانسن دمالیی وزیر ډاکټر عمر زاخیلوال، دمعارف وزیر فاروق وردک او دعامی روغتیا سرپرست وزیر آغلی ثریا دلیل سره هم وکتل او دافغانستان دراتلونکی په اړه یی ورسره خبری وکړی. ددی څخه علاوه هغه دکاناډا دمختلفو سطوحو سره چی په افغانستان کی مرسته او همکاری کوی دکریسمس داختر د لمانځلو موقع هم ترلاسه کړه.

وروسته جلالتمآب جانسن دوسلوال ځواک دطبی علومو په اکاډمی کی دکاناډایی ځواکونو دطبی کارکوونکو سره هم وکتل کوم چی افغان طبی کارکوونکو څخه څارنه کوی. همدارنګه ګورنر جنرال ددی سفر په اوږدو کی په المو کمپ او بلک هارس کمپ کی دنظامیانو سره وکتل او هغوی ته یی مبارکی وویله په پای کی دکاناډا کور (Canada House)ته لاړ او هلته یی دکریسمس په ویاړ په هغه کانسرت کی برخه واخسته چی دکاناډایانو لخوا ترتیب شوی وو.

-30-

عبدالجمیل الکوی

افغانستان لپاره په کابل کی دکاناډا سفارت

Abduljamil.alkozai@international.gc.ca

+93 (0) 793304210